عبدالله نجات
۰۳ جون 2015

«اوسنۍ سيمه ايز امنيت او د تاريخي افغانستان د داعيي ديپلماسي»

پښتنو او بلوڅو سره ديپوستون ورځې سيمينار ۱۳۹۳

دمعاصرتاريخ د افغانستان په تاسيسېدو سره دپښتنو او بلوڅو ديوالي خبنته کېښودل شوه .بلوڅان داحمد شاهي ستروا کی برخه شول او «کوټه»د دغه پيوستون يادګاري ځلۍ . د انګريزانو بلواکی او دکورنيو خرخشو له امله دبلوچستان او د احمدشاهي امپراتورۍ سيمې د انګريززانو له خوا لاندی او د ډيورند –کابل دتپل شوې معاهدې تر بريدونو راورسېدې. دپاکستان جوړېدو سره سم د ديورندکرښې اخوا پښتنو او بلوڅو مبارزې ګډ لوری پيداکړ .۱۹۴۹ز. کال دکابل په ناسته کې دبلوڅو اوپښتومشرانو دخپلوحقوقو ترلاسه کولو په لاره کې دګډو مبارزو پيوستون اعلان کړ او افغان دولت پې هم ملاتړ وکړ. ددې مجادلې د لوړو ژورو تېريدلو لړۍ تردې مهاله چې افغانستان دکړکېچ کالونه تېروي ، نړېوالو ځواکونو موجوديت سره سره د ديورند دکرښې دې خوا افغانستان او هغې خوا پښتنو او بلوڅو اوسيمې ژوند دکړکيچونو او ترخو لوبو ښکار دئ.

سيمه امنيتي ناکراريو سره لاس او ګريوان ده.: افغانستان له سړي جګړې وروسته په ځانګړې توګه دوو لسيزو راديخوا نويو سيمه ايزه حالاتو او چلنجونو سره مخامخ ده ، بين الملل نوی نظام لګيا ده دکوچنيو منظومو او سيمه ايزه ملتياو په مرسته خپلې تشې ډکوي نو سوال دادئ چې سيمه ايز نړديوالی او امنيت دهيوادونو ترمنځ اړيکې او دبهرنيو اړيکو کړنې چې افغانستان هم «داسيا زړه »په محور لاري ورسره شريکي کړي موجود نړيوال چاپېريال کې ځنګه اوپرکومولارو رغون مومي. پدی سيمه ايز جيوپوليتيک کی د افغانستان دخپل موقعيت او دحالاتو دمتحولونو ارزونه څه ده ؟

افغانستان په دريځونو کې دبلوڅو او پښتنو د ربړو جړی او ستونځو افاده څه ده؟ باوردادئ چې دسياسي واحدونو او دسياسي نهضتونو چاري اوبرخليک دامهال دبين الملل نظام دتحولاتو ،نويو اساسي کړنو او دهغه د تشو د بشپړولو سره تړاو مومي خو دغه تګلوری دهمپالنې او همکاری ترڅنګ ستونځو او ننګونو سره هم مل ده. سيمه ايز امنيت اړتيا او دسيمه ايزه ستونځو دهوارېدو ښه مناسبه لاره ده نو لازمه ده چې دموضوع پوری اړوند ټکو سپيناوی وشي. کوشش دادئ چې د موضوع نظرياتي تړون ترلاسه او زياتو تحليلونو ته لاری پرانيستي وي.:

امنيت څه ته وايي؟ امنيت بقا او ددې ترڅنګ له وژونکو او ورکونکو ګواښونو لېرې والی او په ژوند کې دځينو خوښونو(انتخابونو) درلودل دي. (کن بوث ۲۰۰۷) .دلته د دوو فلسفو تشخيصول مهم ښکاري.ځکه چې پرمخالفو دريځونو ټينګار لري: لومړی نظريه امنيت، د قدرت زيرمه کولو (انبارولو) مترادف ده. امنيت يوه پېژندل شوې متاع اوقدرت ته درسېدو لار شميري(الف)..يانې چې قدرت څومره زيات ترلاسه شي امنيت هماغومره زياتيږي . دوهم نظرياتي اړخ بيا د دې مخالف اندلوری وړاندې کوي. دغه فکرلوری امنيتي موضوع ته د ژغورنيsurvival په سترګه وينې. دلته د عدالت رعايتول او دبشر دحقونو تامينول امنيتي متاع نده بلکې دبيلابيلو لوبغاړو ترمنځ يو لړ اړيکي دي.چې سلبي او ايجابي خواوي لري(ب). امنيت اړيکو کې د نسبي وپسايني تر لاسه کول غواړي. دامنيت- نا امنی په معادله کې دځانګړو وسايلو –کاليو- درلودل اصلي عاملونه ندي بلکې ار (اصل) ټکی دلوبغاړو ترمنځ اړيکي دي.(لکه دهند او ايران اتومي وسلو لرلو په اړه دغرب دريځ).

دې فکر لوري کې رښتونی او پايښتمن امنيت پر نورو دقدرت د **اعمالولو دتوان زيرنده نده بلکې امنيت ته لاسرسی دهمکاری محصول ده** .بين الملل امنيت د يوبل د ورکاوي دګواښ پرځای بايد دګډ پايښت پر ژمنو بنا شي(palme.1982:ix) کوم چې« اسيا زړه» طرحه کې ورته پام شوئ. د دې فکر لوريو تعريف دادئ چې :يوه خوا په پوځي دريځ ټينګار لري ولی چې اړيکو په اړه منفي نظر لري او دوهم نظر د مثبت تعبير له مخې دبشر دحقوقو په ترويج او دودولو باور لري . امنيت دچا د پاره ؟ دولت ،ملی امنيت، انسان ، انساني ډلې او دژوند چاپېريال (طبيعت) دامنيت تارګټونه بيان شوي دي. سيمه ايز امنيت يانې څه؟.....

سيمه ايز امنيت په هکله، دښتونو د ودې او پراختيا په څېره کې، ډېرې غوښتنې راڅرګندې شوې خو څرنګوالی پې د سيمه ييزه شرايطو او دبهرنيو قدرتونو دګټو له مخې له يوې سيمې تر بلې سيمې پوره توپير لري (ج) او دا

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

مهال پي دکتو وړ وده کړي ده. تاريخ داهم ثابتوي چې دغه وده اقتصادي همپالني سره ځانګړی کيږي. د دغو بنيادونو د فعاليتونو پراخېدنه دهغوي بيلابيلي امنيتي اغيزمنتياوی په ډاګه کوي (د) دملګرو ملتونو په ګډون نور سيمه ايز / نادولتي سازمانونه د امنيتي همکاريو دګر ته داخل شوي دي (څو اړخيز بنسټونه او دسيمه ييز امنيت سازمانونه هيڅکله دنن په څېر د اهميت وړ نه وو-کوفي عنان) .پدې توګه امنيتي لحاظه دسيمه پالنې څېې تشخيصولئ شو. خو دلته دټولو اغيزې او شرايط يو شانې ندي.. امنيتي سيمه پالنه دسيمه ييز امنيت دوهم مخ دئ. دغه هڅې ځينو سيمو کې برياو سره مل دي چې بيلابيل لاملونه او متحولونه پکې دخيل دي . دفرصتونو په ايجادولو اوکارندويی کې د ځواکمنو قدرتونو دريځونه او دغه راز په ځينو حوزو کې پې منفی اثرات هم دپام وړ دي.

سيمه ،د بين الملل اړيکو او سياسي جغرافپې په ادبياتو کې ديو شمېر هېوادونو نغښتی اومتقابل پيوستون تعريف کيږي چې جغرافيايي او فرهنګي لحاظه متبادل اومتجانس وي.په بله وينا يو شمېر هېوادونه ديوه سيمه ييز بنسټ تاسيسولو او بيلابيلو حوزو کې همکاريوله لاري د ګډ هويت رامنځ ته کېدو او غوړېدو لپاره اقدام کوي .(ح)دامنيت د شکلونو په يوه تعريف کې دجغرافپې نړېدوالی يو رکن شمېرل کيږي.بله بيلګه کې امنيت د مناسب ټولنيز بستر ايجادول دي. او دغه راز سياسي اقتصادي او فرهنګي زمينو کې دتنظيم شويو همکاريو قالب دئ چې رسمي غړېتوب پې شرط دئ .

ديپلماسی دبهرني سياست د نورو وسيلو ترڅنګ دکاروني اوکارېدنې مهمه وسيله شميرل کيږي او کال تر بله پې اهميت او شرايط پراخيږي.تر هغه برېده چې د دولتونو دبهرني سياست کړنلاري د ديپلماسی دکارندويی له مخې ارزول کيږي.دبهرني سياست کارونکو وسيلو ترمنځ بايد منطقي تړون موجود وي .ځکه چې دسياست پنځنې بهير کې دقدرت دتوکو سمه ارزونه او دنړېوال او سيمه ايزو محيطونو او واقعيتونو پاملرنه ستراتژيو ته زمينه او بهرنیسياست پلي کېدو ته ځواکمني ورکوي. يوازې غبرګون، په بهرنی سياست کې ديپښو او حالاتو تر شا تلل دي او دخپلو ملي ګټو دتامين غوښتنې نشي وړاندې کوئ. د موخو او ملي ګټو د سلسله مراتبو اوکلي توګه د بهرني سياست سمه پوهه دخپلو امکاناتو او بين المللي فکتورونو روغه او عاملانه ارزونه دسالمو اړيکو او بيلابيلو تعاملاتو دکاروني کيفيت ساتي دټاکلو موخو او کارووونکو ابزارو ترمنځ همغږي اوتناسب ايجادوي .

ديپلماسي دبهرني سياست د اداره کولو فنکاري دبين المللي اړيکو تنظيم او سولمنه توګه اوپه سولمنو لارو د بين المللي اختلافونو هوارول تعريف شوي. ديپلماسی که څه هم دبهرني سياست يوه وسيله ده خو نورو وسيلو سره هم ملتيا لری (اقتصادي ،فرهنګي او اقتصادي...) .ديپلماسي په نننی نړۍ کې د موخې، موضوع او ترکيب له مخې ژور بدلون موندلئ .ديپلماتيک مسايل دنويو اړيکو او اطلاعاتو په بهير کې هم ژور او هم پراخ شوي دي. د اړيکو پراختيا او پېچلتيا دپرمختللي او ځواکمني ديپلماسی غوښتنه کوي .

دامهال چې دنړېوال کېدنې بهير دهېوادنو اوخلکو ترمنځ اړيکي نړدې کړي د نويو فرصتونو تر څنګ نوې ستونځې او نوی دندې هم راولاړې شوي دي چې نوښتګر - علمي مديريت ځواکمن لوبغړيوالی غواړي. داړيکو دسمبالوني دغه دنده د ديپلماسي پر غاړه ده. سيمه ايز امنيت او فعالي ديپلماسی ترمنځ اړيکي پېچلې خو اساسی مسله ده ..اصولي توګه ملي منافعو تامين ، موخو ته د بهرنی سياست د لاسرسي موارد، مهارتونه او وړتياوې دفعالي ديپلماسی اساسي موضوع جوړوي. دوه اړخيزتوب تر څنګ د افغانستان دڅو اړخيزوالي هڅې دهمدغو ديپلماتيکو نوښتونو بيلګې دي.

افغانستان هم په خپل تېرتاريخ کې ، هم له سړې جګړې وروسته پراو کې او دسپتامبر له پېښو او پايلو وروسته دخپل جيوستراتژيک موقعيت ځانګړې ننداره لري. دتاريخ لنډه شاکتنه څرګندوي چې دبين الملل اړيکو د لوبې لوبې مخامختيا دافغانستان دکورنيو کمزوريو له مخې دافغانستان دغاړې غړوندی شوه .هند کې برېتانوي نېواک او احمدشاهي امپراطوری دخاوری يو تر بله لاندې کول او د «ګندمک» او بيا د« ديورند » معاهدو دښکيلاکي اوتحميلي شرايطو په نتيجه کې دافغاني خاوري غصبيدل او د استقلال له لاسه تلل افغانستان لپاره ناوړه ماحول ايجاد کړ . افغانستان تر دوه لوريزه فشارونو لاندې له استقلال وروسته هم خپلو جيوپوليتيکو فرصتونوڅخه ګټې اخېستو ته لاسرسی ونه موند ..د دوه قطبي نظم دترتيباتو په ترڅ کې سره له يو لړ فرصتونو افغانستان دسترو ځواکونو د ايډيالوژيکو او ستراتژيکو سيالیو لوبغالی شو . افغانستان په خپل تاريخي پس منظر کې دخپلو تاريخي انګيرنو او واقعيتونو په مېچنه کې راګير شو :

د لوبې لوبې ترسيوری لاندې د بلوڅو او پښتنو داعيه دافغانستان دتاريخي خاطرو او ستړو ستومانيو تومنه شوه او دپاکستان په جوړېدو سره هم چارې پرهغه خوا ولاړې چې دستری لوبې له استعماره وروسته څېو سره ملګرې

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

وی. پښتنو او بلوڅو خپله غصه جاري وساتله او افغانستان پې هم په ننګه ودرېد. دافغانستان دننګي دريځ دحافظي يو طبيعي سير ؤ خو د دې بهير لاره د بين الملل ترتيباتو او تضادونو له هغه بهير سره بيله وه کوم چې د واکمن نظام او دسيمه ييزې کرښې پر سر جاري ؤ. دکرښې جيوولیتيک د لويو ستراتژيکو شخړو ډګر پرانيست. افغاني نشنليزم له بهر او له خپل کورني اړخه دبحرانونو ښکار او وټکول شو .له سړې جګړې او په تېره بيا له سپتامبر وروسته تحولاتو او د بين الملل نظام سيمه ييز نويو عواملو افغانستان او سيمه دحالاتو په نويو درشلونو ودرول.
نوي نړېوال نظم نړېوال کېدنې بهير پايلو چې دپيوستون ، نړدېوالي او اقتصادي سمونتياو نوی سيمه ييز بهيرونه، بنيادونه، ميکانيزمونه اود ترتيباتو متحولونه اوتکلونه رامنځ ته کړل دمدرنيزم او سنتوالي خرخشي او وېدو غرايزو د راولاړېدو پارېدنې هم پېل شوي. مېکرونشنليزمونه چې اتنيکي خپلوېتوب او انګېرنو څخه خړوبېږي هم ډګري شوي. يوېشتمې پېړۍ لويو لاس ته راوړنو تر څنګ هويتونه او ويارونه هم راوپارول ولي چې دګلوبلايزيشن دناهېليو په وړاندې چې دتاريخ پاي پې اعلان کړ دسياسي ټولنيزو بهيرونو ملا وترله.
سيمه ييز امنيت په اړه افغان دېپلماسي او سياسي تدبيرونه او بهرني سياست دکړنو او کړنلارو په اړه د افغانستان دبهرني سياست د ديپلماتيکو ترتيباتو تشخيص او د بين الملل نظام او دافغانستان دشاوخوا امنيتي کړيو مناساتو سره دافغانستان دتعاملاتو پېژندنه اونوې ټاکنه مهم ټکي دي . دلته دافغانستان سياسي دريځ ،موخې اودستراتژيو دټاکلو او غوره کولو لارې او ابزار جوله مومي او پدې ټولګو (مجموعه) کې دخپل جيوپوليتيک ځای فرصتونه او ننګونې هم مشخص کيږي.
دجنوبی اسيا ټولګه دهند او پاکستان او بيا همدې حوزی سره د سترو قدرتونو دتعامل په څرنګوالیکې ځانګړي کيږي .دې سيمه کې دهند پاکستان د دوه اړخيزه اړيکو د تعارض سيورې پروت دئ . ديوه ملاتړونکي مهم په حيث هند سره دافغانستان ستراتژيک تعلقات بسيايني سره مرسته کولای شي. د مرکزي آسيا امنيتي حوزه د روسيې اوچين، ايران او ترکيې دسيالیو ډګر او د بيلابيلو موخو له مخې دغه حوزه د افغانستان اوسيمې د ننګونو په وړاندې د امنيت محدوديتونه لري. شانګهای هم ټاکلي محدوديتونه لري .ځکه چې شانګهای دلوديز په دريځ کې اصلي سيال ګڼل کيږي . منځني ختيځ دامهال دبی ثباتيو او دبيلابيلو لوريو د ناوړه سيالیو ډګر جوړ شوئ .منځنی ختيځ دنړېوال نظم دسيمه ايزی اډاني دکړکېچ يو لوی ټای دئ. افغانستان همدې حوزوي کړيو ترمنځ پرته(واقع شوې) امنيتي کړۍ اود ستراتژيو مهم ډګر جوړ شوئ دئ .
نړيوال حضور او دحالاتو اغيزې دا په ډاګه کوي چې افغانستان هوسايني او امنيتي رغوني په درانه کار کې دبين الملل نظام د امنيتي ملتيا او حمايتي اړتيا برخه ده او يادو شاوخوا کړيو سره په سولمن تعامل کې دنړېوال نظم له اړيکو څخه دکورنيو وړتياو لوړولو په مټ خپل شرايط بدلولئ شي. دغه شرايط د اقتصاد محوره کړندود غوښتنه کوي او د دوه اړخيزو اړيکو د اغيزمنتياو په پام کې نېولو سره اړينه ده چې سيمه ييز سولمن چاپېريال رغونلاره کې د همکاريو په څو اړخيزوالي اوعامه فرهنګي ديپلماسي بنسټزه کېدو ته جدي پاملرنه وشي. ګډې ګټې د تفاهم،وېساتوب او نژديوالی ګامونه ځواکمنوي او دغه کار دفکرونو نوښتوب او ټولنيزې همغږي چمتو کوي. امنيت اصلی جوهر ترلاسه کوی. کوم چې يوازی پوزي وړتيا او برلاسي تعريف شوي.
سيمه ييز امنيت موضوع چې دسيمې مفهوم سره اړيکي لري هغه سيمې ته له امنيتي اړخه کتل او په سنتي تعريف کې وجوهاتو له مخې ګواښونو په وړاندې د وقايه کېدنې ګډې هڅې دي ..
جنوبي اسيا چې افغانستان پې حالاتو سره تړلئ دئ دامنيتي بی ثباتيو دېلګو په تعريف کې ځای لري. دسيمې دولتونو ترمنځ ترينګلي مناسبات جمعيتي تکاثف (وګړشمېر) او دافغانستان دبحران او اشغال دکلونو او بيا وروسته مذهبي تندلارو او بنسټپالو دې سيمې ته ځانګړی تشخص ورکړئ دئ. د سيمې دغډو اوګنو اړتياو له مخې سيمې څو لسيزی وړاندې دسيمې درغون اوپرمختيا په موخه دسارک اقتصادي سازمان جوړ او هند پاکستان پې هم منځي غړي شول. افغانستان هم دامهال ددې سازمان غړېتوب لري.
پدې هيله چې سيمه ناوړه اړيکو او حالاتو ته داقتصادي همکاريو او پيوستون له لاری بدلون ورکړي خو سيمې پدې لاره کې توفيق تر لاسه نکړ . دځو اړخيز فکتور په توګه دسيمې کړکېچ دبنسټپالو دتمځايونو او دپالنې او ناوړه بهيرونو دملاتړ کړنې پاکستان سيمې او نړۍ ته د ګواښ په مصدر بدل کړئ د بنسټپالنې او افراطي کړيو دی تولېد او خرخشو دامهال ټوله نړۍ اوځانګړي توګه اسلامی هيوادونه اغيزمن کړي دي.. کله چې دغه د کرکی او خشونت بهير دنشه يي توکو ناوړه لړۍ د سيمې دسياسي اسخاراتي کړيو له ستراتژيکو موخو سره همټره شول دسيمې او نړۍ او د افغانستان او دغه راز پاکستان د امنيتي ګواښونوتسلسل پراختيا ومېنده .نړېوال دريځ په خپل غبرګون کې دې ربړي (ناوړه پديدو او ترشا ولاړو لارښودو کړيو)سره نيمګړۍ او سطحي چلن غوره کړ . سيمه

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

او افغانستان ناوړه بهيرونو سره لاس او ګريوان پاتې شول . په ځانګړې توګه ديورند اخوا قبايلي سيمې د ناوړه بهيرونو ، ناوړه استخباراتي محصولاتو ،او د دهشتګرو د لوبو ډګر جوړ شو .
دسيمې امنيت مقولې ترکيب دسيمې د روابطو څرنګوالی او دسيمه ايزه همپالنې او سيمه ايزو بهيرونو او سازمانونو ټکې اوضرورتونه هم مطرح کوي.ځکه چې سياسي او اقتصادي همکارۍ د سيمه ايزو سازمانونو اوميکانيزمونو په وجود کې د اجرا وړ دي.دغه بنسټونه او ميکانيزمونه دخپلو ځانګړو شرايطو او اړتياو دموضوع پر توکو جوړه مومی.«د خليج دهمکاريو شورا » کې سياسي وجهه د اقتصادي وجهې پرتله درنه ده. ايکو اقتصادي موخې لري. سارک هم دا شانې !. سيمه ايز بهير ، ميکانيزمونه او بهيرونه د يوه بين المللي سازمان او ژمنو په تاسيسېدو سره پرمخ ځي. داچې دغه سازمانونه د غړو دګټو دهملورښتوب پر اساس اود فني موضوعاتو پربناء شکل مومي د موضوعي رژيمونو پديده هم راټوکيږي چې دهمکارۍ دبهير اسانتياوې برابروي.
افغانستان نويو حالاتو ترڅ کې د غوره او وړ مقام پربناء خپل دريځ نوی او سيمې ته اعلان کړ. افغانستان په نوښت ستامبول- اسيا زړه بهير ، سيمه کې افغانستان جيوپولتيک ته دنوي لوري ورکول او سيمه ييزه همغږي او همکاريو په ترڅ کې د فرصتونو لوړول او دننګونو دسطحې راښکته کول هم دي. ددې بهير دهمکاريو لړۍ پرهغو ستونځو برلاسي او ستونځو ته د هواري دلارو ايجادول هم دي چې دبهير په اوږدمهال منظر کې سيمه کې ترلاسه کېدونکي دي. افغانستان په محور اقتصادي همپالنې په موخه د همکاريو پيلونه د افغانستان دشاوخوا سيمو دشرايطو او اړيکو دمثبت بدلون سبب ګرځي.دسيمې هېوادونه سره ورته ارزښتونه او وړتياوې لري .افغانستان هم خپل جيوپوليتيک موقعيت او پراخو روابطو له مخې وړتياوې او ترجيحات لري چې سياسي ځواکمنې ترلاسه کولۍ شي.
اقتصادي اړيکې او مختګ سياسي همغږي ايجابوي ،ددې توګه سيمه ايزه پرمختيا په سياسي ، اخلاقي او ايديولوژيکو بنسټونوکې تسامح اوتساهل ،له قومي کوچنيو هويتي اختلافونو پرهيز ،د نشنليزم پرځای انټرنشنليزم، ملي پريکړو رامنځ ته کولو کې دسيمه ايزو او نړيوالوسازمانونو مشارکت ، نړيوالو ارزښتونو سره دملي ارزښتونو همغږي اوسمونتيا ،په نړېواله کچه اړيکو او مبادلاتو کې په پلورالیزم باور لرل ،په بين المللي مجامعو کې دسياسي کدرونو او غړو خوځښت او ګډون، بين المللي سطحه کې ورته مواردو سره د ملي اخلاق، ژوند توکي، ټولنيزو سياسي کړنو دپيوندونو ټينګښت.د نړېوالي ټولنې غړېتوب منل اود ټولنيزو سياسي همپالنې او اقتصادي همپالنې پيوند، غواړي. (منطقه ګرايي در آسيا ص ۳۳- ۲۶).
د ريالیزم نظريه دولتونه دبين الملل د اړيکو چورليځ (محور)ګڼي دلته قدرت امنيت سره تړلي اوسياستونه او تګلارۍ امنيت تعبيريږي. پدې توګه دسيمې پالنه لومړېتوب نلري. تهديدونه او دبقاء تضمين پدې اندلوري کې له مخکې منل شوې فرضيې دي او د شخړو اوجګړې مخنيوی دقواو د موازنې له لارې ترسره کيږي. د دولتونو ګټې او هملورښتوب د سر خبره کوي. پدې اندود کې سيمه ايزه همکاري هغه څه مانا کيږي چې ددولتونو قدرت پياوړۍ کړي. ريالیزم سيمه ايزه اړيکې اوپيوستون راتلونکي کمزوري او نادامنه شرايط ګڼي. دغه فکر د بين المللي نظام او دي ترڅ کې دپاکستان سيمه ايزچلن هنداره ده. دقدرت پرمټ دسيمې امنيتي ګرځول.
عقلا نی ريالیزم او ليبرالی کتنه بيا دانسان پر فطري نيک نيتی باور لري .دلته دغه فکر ځای لري چې ننني اکسيونران(لوبغاړی) راتلونکي ته ارزښت ورکوي .او هم ژوند بوالهوسه لوبه نده. دوی پدې پوهيږي که همکاريو نه سرغړونه وکړي په راتلونکي کې به مجازاتو، سياسي اقتصادي بنديزونو او پوځي دباونو سره مخامخ شي. همکاري او اقتصادی پيوندونه يو لړ بين المللی ضوابط، بنسټونه او نورمونه ايجادوي .بل داچې ژوند ددموکراتيکو غوښتنو پرلور رهي دئ او دغه هڅې دستونځو د راښکته کولو سبب ګرځي .که دولتونه دمخ په زياتېدونکو غوښتنو مخه ډب کړي نو په خپله دجګړو لامل او دجګړو قرباني ګرځي. بين المللي بنسټونه دکړنو او عمل د پېژندل شويو بيلګو په مانا دي چې په شاوخوا ېې د همپالو لوبغړو هيلې او انتظارات سره نږدې کيږي.(ص ۳۸ شماره ۳۶منطقه ګرايی دراسيا)
لنډه داچې نړيوال سيمه ايز سازمانونه او سيمه ايزه همپالنه او نړېوالي هڅې دشرکتونو او دولتونو د ګټو ترڅنګ دخلکو دهمغږی،نږديتوب او وړتياو او ګډې زدکړې او دپوهې دلوړېدو سبب ګرځي. دافغانستان شاوخوا ګرچاپېره سيمې هم دکاليو بيساري ګرځښت دسوداګری ،ارتباطاتو اواطلاعاتو په غورځنګيزو تحولاتو کې او هم دپېچلو اړيکو په سبب دسيمه ايزه اسانتياو له ايجادولو پرته دخلاصون او تښتې بله لار نلري .نوپدې ترتيب دامنيت د معما پېژندنه د دولتونو په وچو کلاسيکو ريالیستيکو برداشتونو او بنديزونو کې دژغورنې او سوکالۍ ځواب نلري.ملي ګټې سيمه ييز امنيت او سوکالي سيسمه ييزه هملاريو او همکاريو او سالم تاعمل سره تړلي دي .سيمې افغانستان او په همدې تناسب دښتنو او بلوڅو د مجادلو او سيمه کې دسالم رغون غوښتنه داده چې سيمه او تر هرچا دمخه

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

دپاکستان واکمن سیاسي دریځ اوپوځیوال فکر لورې بدل کړي دسیمي او پاکستان اړتیاوي نوې سیاسي دود او رغنده مناسبات ایجابوي دپاکستان دنوي نسل دغوښتنو فکر لورې دبدلون او سمون نوې لارې پرانیزي پر برلاسۍ ټینګار او پرزړولارو تلل بري ته نه رسیژي .
د زور پر مټ دخلکو د ایلولو او دحقونو دترورلو دوران مخ په ختمېدو دئ. آزادي او سوکالي د پاکستان دسیاسي لویې غوښتنې قرباني شوي. پاکستان دخپلې سلامتیا او پرمختګ لپاره سیمه کي له ګډ سولمن ژوند او بلوځو- پښتنو په وړاندې په خپل تبعیضي چارچلن کي له نوې کتنې او دهغوي د حقونو له اعاده کولو پرته بله لار نلري.کلي په زور نکیږي - که غر لوړ ده پر سر ېې لار شته ! بنسټپال او ناوړه بهیرونه دپښتني قبایلو محصولات ندي او نه دپښتنو اوقبایلو له خوا افغانستان او یا نورو سیمو ته صادریږي. زاړه ښکیلاکي میراث، اوستراتژیکي ژورتیا فکرلوري دغه ځواکونه ستراتېژیکو لوبو دسنګرونو لپاره پاللی او نازولي دي.مسولیت تر هر چا دمخه دپاکستان پرغاړه ده. نړیواله ټولنه دغه شان دسیمې هېوادونه او دموکراتیک مدني بهیرونه اوبنیادونه پکار او بایده ده چې د ناکراریو دجړو پوهاوې ترلاسه کړي او هم هغو ستونځو لاملونو او زمینو تشخیص ته رسیدګي وکړي چې د ناکراریو سرچینې پې جوړې کړي او هم د بیارغوني او اصلاحاتو هغو عملي چارو ته مخه کړي. چې دسیمه ییزه اړیکو درغون دخلکو دژوند د پیوستون شرایط رامنځ ته کوي.
افغانستان سیمې ، ګاونډیو هېوادونو او په ځانګړې توګه پاکستان سره د اړیکو ښه والي او پراخېدو ته ځانګړې پاملرنه کوي خو دهمکاریو او نړدیوالي هغه لاره تعقیب او پراخه کړي چې له مخې پې کېدې شي دسیمې او د دواړو هېوادونو ترمنځ مناسبات او دې ترڅ کي دبلوځو اوپښتنو مطالبې د سیمه ییز رغون برخه شي . دا مهال نه یوازې قومي او سیاسي خپلوېتوب بلکي تر هر څه دمخه د افغانستان او پاکستان دخلکو خیر ښېګڼه ،سیمه کي د سولمن ژوند اعاده کول ،او د بحران له منګولو څخه د پاکستان ژغورنه، بلوځو پښتنو ، سیمې او ګاونډیو هیوادو سره ډاډمنو او رغنده اړیکو لپاره پاکستان له لورې ژورو اصلاحاتو او نوې لور لید ته اړتیا لري .

الف. (یاني امنیت لرلو لپاره باید ځینې شیان لکه وسلې پیسې پوځ شتمني ولرو).
ب - د امنیت سلبي انګیرنه دګواښونکي ځیز نشتوالي ته اشاره لري ، او ایجابي انګیرنه د امنیت دځینو پدیدو او وړتیاو لرل دي چې ځواکمني ایجادوي او چاري ممکنوي .
ج. (د واحدتعریف په باب دنظر د یووالي له نشتوالي سره سره سیمه ایزو بنسټونو او نړیوالو لوبغاړو دامنیت په ټینګولو کي خپل اهمیت څرګند کړئ دئ.)
د -(سولې ټینګښت او د اختلافونو له هوارېدنې رانېولې د وسلو تر کنټرول او بهرني سیاست ترهمغږه کېدو پورې).(دافریقې داتحادېې غړو دولتونو دملګرو ملتونو سوله فعالیتونو کي ۷۵ سلنه ونډه ادا کړې). دامتیتي سازمانونو کارندویي او اهمیت دبین المللي سرښندنو انفجار (explosion of International activism
ح- (حسن مرزوقي . منطقه ګرایي در آسیاص. ۲۰-۴)

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ